مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد لاهو

۲۰۲۳/۰۴/۰۵

# بندي شوې رنا

ستا سو خواته هم هر باغ نه
د ميزان د ستوري مخ کې
د انګورو له خوږو خوږو وښکيو
تکې سرې وينې څڅيږي ؟
د بلوغ زرغون موسم کې
د پيروتو شيرچايی نازک لاسونه
ته به وايې د زړګي نري رګونه
د هر تبر تيره تيغ باندې پرې کيږي ؟
ستاسو خواته هم آسمان نه
هر وخت تور کاڼي را لويږي ؟
اې د خپلې مهاجرې ژړا غيږ کې غرقه سينده
د شيشو دغه نازک قفس درواخله
ګوره پام چې ما د چا پکې د مخ خوږه رنا لکه يو ګل زنداني کړي
هغه خدای مه کړه څوک ماته درنه نه کړي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ